

# دمور مینه

لیکوال: حاجي محمد ځلاند

Ketabton.com

شننه او څیړنه جمیل احمد درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمور

# مینه

## دمور اوپلار د حقوقو په اړه

## بشپړ لاربنود کتاب

لیکنه اوڅیړنه : حاجی محمد ځلاند او همکار جمیل احمد درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه

دکتاب ټول حقوق په خپرندویه اړه لري!

---

دکتاب پیـــــــــــــــــــژندنه

دکتاب نوم : دمور مینـــــــــــه *
لیکنه او ځېړنه : حاجي محمد ځلاند اوورسره همکار جمیل احمـــــــــــــد درویش *
خپرندویه اداره : الهدایۀ خپرندویه اداره *

کتنه او خوښــونه عبدالحـــــــمید مســـــــــــتقیم

او حکمـــــــــــت الله الهــــــــام *
ډیزاین الهـــــــدایۀ خپرندویه اداره *
دچاپ کال ۲۱ /۳/۱۳۹۸ *
۶/۱۱/۲۰۱۹ *
۱۴۴۰/۱۰/۷ *

دچاپ شمیر : *
۱۰۰۰ ټوکه

کچه ۸۳، ۵×۲۷، ۸ سانتي متره *
دترلاسه کولو ځای دتدریس القران اسلامی ولسی راډیو *
همدارنګه کیتابتون ویبسایټ *

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## له ګرانو لووستونکو څخه یوه لنډه هیله

اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته. اما بعد

دټولو لوستونکو څخه موږ داهیله لرو چی په دی کتاب کی کومه یوه غلطی په نظر ورسی .

هغه دی هم هلته اصلاح کړی . غلطی که املایی وی یا معنوی وی یا داسی بله غلطی وی څه فرق نه لری بس اصلاح دی یا په ذهن او یا په قلم سره وکړی او موږ ته دی دزړه له موخی معافی وکړی . ځکه هر انسان دهیری او خطا خاوند دی .هیڅ یو انسان داسی نسته چی خطا دی نه ځنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

کیږی .پوهان وایی : بنده معنا مانده :اوبل داچی ځرنګه یو څوک دانه غواړی چی دده په عیب باندی بل یو پوه سی نوباید چی دبل مسلمان انسان لپاره هم دانه وغواړی چی دده عیب ونوروته ښکاره سی . پښتانه څومره یو ښه متل کوی : بنده راسه دخدای خپل سه لکه پرځان داسی پربل سه : اودمسلمان پرعیب پرده اچول نه یوازی داسی چی هغه خوشحاله کوی بلکی

دده دخپلو عیبونو ددی لامل ګرځی چی الله رب لعزت به یی وریټ کړی . یا په دنیا کی او یا په اخرت کی . مبارک علیه الصلاة والسلام فرمایی (من سترمسلما ستره الله فی الدنیا والاخرة )یعنی څوک چی دیو مسلمان عیب وریټ کړی نو الله ج به یی په ددنیا او اخرت کی پرده وکړی .نور بحث نه اوږدوو دهو ښیار لپاره صرف اشاره هم کافی ده

والســـــــــــــــــــلام

حاجی محمد ځـلاند او ورسره هـــــــــــمکار جمـــــــــــــیل احـــمد

درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالـــــۍ

* دخپلو والیدینو مور اوپلار په نامه چې له زوکړې یې ترځوانی په دینی خدمتونو کې مصروفه کړی یو تر دې چې دعلم ډګر ته یې راورسولو و په الهی دین اسلام سره یې زموږ پالنه وکړل.
* او دهغو ځوانانو ورونو او خویندو په نامه چې دخپل مور اوپلار ډیر احترام او قدردانی یې کړې وی.
* په درنښت حاجی محمد ځلاند اوورسره همکار جمیل احمد درویـــــش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب ځانګړتیاوی

ګرانو لوستونکو و دکتاب ځانګړتیاوی ته وله په لاندی ډول سره دی

۱ لومړی ځانګړتیا یی داده چی په بیلا بیلو معلوماتو سره اوډلی دی

۲ ځانګړتیا ددی کتاب داده چی یوه په زړه پوری قیصه دمور په هکله وړاندی کیږی ورپسی یو څو غوره ویناوی دوالیدینو دحقوقو په اړه وړاندی کیږی

۳ درهمه ځانګړتیا یی داده چی دوالیدینو په هکله دمعلوماتو وروسته یو ه په زړه پوری ادبی ټوټه هم پرته ده

۴ ځانګړتیا ددی کتاب داده چی دپو هانو ځیرکو عالمانو او اوستادانو غوچاڼ معلومات پکښی ځای پرځای سوی دی

الهی دا ځانګړتیاوی او پایدی هرلوستونکی ته په برخه ورکړی اوزموږ سپیڅلی کوشش په خپل عالی دربار کی قبول او مقبول وګرځوی

امین

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب لیکلو سبب او لامل

داچې په انټرنیټ او عامه کتاب پلورنځیو کې دمور او پلار حقوقو په اړه کوم داسې مدلل او بشپړ کتاب په نظر نه راغلی نو موږ هم هڅه وکړله چې دوالیدینو دحقوقو په باره کې یو کتاب تالیف کړو نو الحمدالله اوس دادی تالیف مو کړی او ستاسو په لاسونو کې دی چې خالص می دخښتن تعالی په مرسته او توفیق سره تیار او نویشته کړی

ولحمدالله الجـــامع وحده

## دلیکوال پیژندنه

حاجی محمد ځلاند چې اوس مهال دکندهار ولایت دسپین بولدک ولسوالی دنوی کلی اوسیدونکی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

محترم حاجی محمد ځلاند ابتدایه زده کړې
دپاکستان دبلو چستان په ایالت کې د سرخاب کمپ
دهجرت په عالي لیسه کې ترسره کړې . متوسطه زده
کړې یې دکندهار ولایت په لمراو الجهان ښوونیز
مرکز کې سرته رسولې .

ددې وروسته یې د اقتصادي مشکلاتو له وجهې په
کارپیل وکړ اوزده کړې یې نیمګړې پاته سوې . محترم
حاجی محمد ځلاند دکمپیوټر په برخه کې دیادونې وړ
استاد هم پاته سوی دی په دې برخه کې یې ډیر
شاګردان روزلي دي .دهغه وروسته یې د سپین بولدک
په سیمیزه او ولسي اسلامي راډیو لومړی تعلیم القران
وروسته بیا په تدریس القران راډیو کې دتخنیک دنده
په غاړه وروسپارل سوه

دلازیاتو بریالیتوبونو په هیله دې عبد الحمید مستقیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرســـــتپ

(دمور مینه) ........................................ 13

د مور د مهربانی په هکله یوه ډېره په زړه پورې قیصه
........................................................... 13

ای ګرانيې مور جانيې : ................................. 15

دمور په اړه غوره خبري ................................. 17

د مور جالبه کیسه........................................ 18

ادبی ټوټه.................................................. 23

مور یعنی څه؟ ........................................... 25

دنبی ص مینه دمورسره.................................. 26

ادبی ټوټه.................................................. 31

دمورپه هکله څوزرینی کربنی ......................... 32

د یوه زنداني د زندان خاطره ......................... 33

دمورد مینی ادبی کربنی ................................ 36

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه


مورڅوک ده ........................................ 37
ګرانی موری ........................................ 38
سوال وکړل سو چي مور څه شئ ده؟ ........................ 42
ادبی ټوټه ........................................ 45
یوه مور په ځنګله کي ........................................ 46
مور ........................................ 48
عجیبه قیصه ........................................ 51
مورجانه ........................................ 53
ادبی ټوټه ........................................ 54
د مورسره دزوی دوکه ........................................ 58
زرینی کربنی ........................................ 60
ادبی ټوټه ........................................ 61
قیصه ........................................ 63
مورڅوک ده ........................................ 66

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه

ادبي ټوټه..................................................67
قیصه..........................................................68
قیصه..........................................................70
له مور او پلار سره نیکي کول..................................72

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (د مور مینه)

دې نړۍ کې مطلبي مینه رواج ده
چې یوه یې د ښایست بله د باج ده

بې مطلبه که څوک مینه لیدل غواړي
د مور مینه نه په تخت او نه په تاج ده

هره مینه خپل مقام لري وځانته
د مور مینه رسیدلې تر معراج ده

میني سته چې په عوض هم پوره کیږي
او دا مینه صرف اولاد لره احتیاج ده

زما (درد من) دې خدای د حق مینه نصیب کړي
نوره مینه د غارت او د تاراج ده

---

## د مور د مهربانی په هکله یوه ډېره په زړه پورې قیصه

یو ځوان هلک چې هره ورځ به یې په کور کې د میرمن او مور ترمنځ جنجال ؤ,نو غوښتل یې چې د مور څخه ځان خلاص کړي، فیصله یې وکړه چې مور باید په ځنګله کې خوشې کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو موریې په شاه کړه او د یوه لوي ځنګل په لور روان شو
او یو هسک غره ته وخوت چي خپله بوډۍ مور هلته
پریږدي ترڅو راکښته نه سي, نو کله چي د ځنګل په
منځ کي د دنګو او هیبتي لویو بوټو
ونو )لاندي تیریده نو مور به یې دپاسه د ونو     (
. . . څانګې ماتولې او په ځمکه به یې غورځولې
هلک خپله مور په غره کي پریښوده او یوازي رارو ان
شو ,لیکن لاره ډېره هیبت ناکه وه هلک فکر وکړ چي که
خدای تعالی مه کړه لاره مي غلطه کړه نو هسي نه په بل
لوري لاړسم او حیوانات مي وخوري,په دې سوچونو
کي ؤ چي مورکی یې پرې اواز وکړ چي زوی جانه
ګوره چي لار درنه غلطه نه سي ما به په لاره کي د ونو او
بوټو څانګې په دې خاطر راماتولې او په لاره مي
غورځولې ترڅو تاته په بیرته تلو کي مشکل نه وي او
لاره درنه غلطه نشي اوس په همدې نښو نښانو بیرته
ولاړ سه ! زوی جانه ناوخته دی ژر ژر ولاړ سه چي خدی
تعالی مه کړه کوم ځناور درته نقصان ونه رسوي په خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ سې زویه ! په دې وخت کې د اوښکو ډنډونو د
هلک په سترګو کې سیلابونه
جوړ کړل ، زیات پښیمانه شو مور ته راغی غاړه یی
ترینه واخیسته لاسونه یې ورته ښکل کړل او بیرته یې
. کور ته بوتله
تر ټولو عجیبه خو دا ده چې زوي یې د مرګ سوچونه
! کوي او مور یی د سلامتۍ فکر
مور جانه د مینه ناک زړه څښتنه ده هر وخت یی قدر او
عزت کوه ځکه چې دغه نعمت په عمر کې
انسان ته یو ځل ور کول کیږي.

## ای ګرانې مور جانې:

هر هغه څه چې تا زما لپاره کړي لکه مینه، پاملرنه،
باور، تشویق، هیله، هوساینه، ملاتړ، ډاډګیرنه او
دا هر څه ما په دې پوهوي، چې زه څومره شاباسی
نیکمرغه وم ، چې ستا غوندې مور مې درلوده ، ددغه
ټولو نیکیو په بدل کې زه هیڅ نشم کولای یوازې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

دومره وایم چې اې د عرش مالکه ای د ځمکو او اسمانونو خاونده زما مورته په خپل فضل او رحم سره جنت الفردوس ورکړه ته مور دواړه د قیامت په ورځ د خپل عرش د سیوری لاندی سره یوځای کړه.

امین ثم امین

خدائې خودې بې موره د چا کور نه کړي
او ګوره صورت مې ځکه زور نه کړي
ځکه مې غمونه اوس ملګري دي
اوس راته دعا خو خوږه مور نه کړي
ماورباندې خاورې اړاولې دي
خوند ځکه دا کلې او دا لور نه کړي
څه رنګه به هیره کړم مور جانه زه
کورکښ مې خندا نیازیینه خور نه کړي
وائې راته څه شوله ادې زما
اوس راسره لوبې واړه لورنه کړي
څنګه چې خلق سوځې د مور جانې غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې سوځول په خدایګواور نه کړي
هغه خوشحالې نشته اوس کلي کښې
اوس واړه زمونږ کلي کی شور نه کړي
څنګه چې دا زه داسی بې موره شوم
خدائې دې دغه خلق داسې نور نه کړي.

## دمور په اړه غوره خبري

یوائځی څوک چې زړه او روح یې د ژوند تراخیره د اولاد سره ربړدي مور ده.

. مورتهوله د مهربانۍ څخه جوړه ده

یوائځی څوک چې دعمر تراخیره پوري د اولاد نوم په خوله کی لري هغه مور ده.

هیڅ ګل د مور په شان رنګ او ښکلي بوی نه لري

مور د نیکبختۍ لمر دي

له داسی حاله ویره وکړه چی مور دی له فریاد او نفرت څخه خپل لاسونه ستاپه خلاف داسمان په لوری اوچت کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمور حسین یادونه داسی یو سیند دی چی
دژوروالی اندازه یی یوازی واحد الله جل جلاله
ته معلوم دی

دمور محبت داسی یوه هستی ده چی هیڅ
نه خـــتمیږی
دمور محبت دهرڅه څخه بهتر او ښایسته شی دی

## د مور جالبه کیسه

یوه مور د خپل ناروغه زوی د کټ خواته ناسته وه او
ژړل یې
ملائیکه راکښته شوه مخ یې د مور خواته کړ او ورته
یې وویل:
ای موري ! زه د الله ج له خوا راغلې یم، هغه پر تا
رحمت کړی چې ستا یوه هیله پوره کړم، وو ایه له هغه نه
څه غواړې؟
مور ملائیکې ته مخ کړ او ورته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



له الله ج څخه غواړم چې زما زوی ته شفا ورکړي.
ملائیکې وویل: پښیمانه کیږې خو به نه؟
: مور ځواب ورکړ
! نه
: ملائیکې وویل
اوس دې زوې روغ شو، خو تا کولای شو چې د خپلو
رندو سترګو د لید غوښتنه دې کړې وای
مور مسکۍ شوه او ورته یې وویل: ته یې نشې
احساسولی
کلونه تیر شول زوی څخه ستر او بریالی انسان جوړ شو
. او مور به هم د زوی بریالیتوبونه په مینه ولمانځل
زوی واده وکړ او له خپلې میرمنې سره یې ډیره مینه
درلوده یوه ورځ زوی مخ مورته ور وروا ړه وی او ورته
یې وویل
! مورې
نشم کولی ځنګه یې درته ووایم، خو اصلي ستونزه دا
ده چې زما میرمن له تا سره یو ځای ژوند نشي کولی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

غوارم تاته یو ځانته کور پیدا کړم ترڅو ته هلته جلا ژوند وکړې.
: مور زوې ته مخ ور واړولو او ورته یې ویل
نه زویه زه د پخو عمرلرونکو خلکو ځای ته ځمه
او له خپلو همزولو سره ژوند کوم او هوسا به یمه
مور له کور څخه بهر شوه یوائې کبنینا ستله او په ژړا بوخته شوه
ملائیکه بیا راکښته شوه او مور ته وویل
ودې لیدل چې ستا زوی له تا سره څه وکړل؟
اوس پښیمانه شوې؟
غواړې ورته ښرا وکړې؟
مور وویل: نه پښیمانه یمه او نه هم ښرا ورته کوم، ته څه پوهیږې؟
: ملائیکې وویل
بیا هم دالله ج رحمت پرتا شوی او کولای شې هیله وکړې، اوس وایه پوهیږم چې له الله ج څخه دخپلو سترګو لید غواړې،
صحیح ده؟
مور په ډاډ سره وویل,نه! ملائیکې په ډیره حیرانتیا سره وویل
نو څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

: مور ځواب ورکړ
له الله ج څخه غواړم مېږور مې ښه او زړه سوانده ښځه وي او
وکولای شي چې زما زوی بختور کړي, ځکه زه نوره هلته نه یمه
. چې له خپل زوی څخه څارنه وکړم
د ملائیکي له سترګو څخه اوښکې رواني شوې او د اوښکو
دوه څاڅکي د مور په سترګو کې ورتوی شول او سترګو یې
. دید پیدا کړ
کله چې مور د ملائیکې اوښکې ولیدلې ورڅخه ویې پوښتل
ایا
ملائیکې هم ژړا کوي؟
! ملائیکي وویل: هو
خو یوائې هغه وخت اوښکې تویوي او ژاړي چې کله الله ج
. وژاړي
: مور پوښتنه وکړه
الله ج هم ژړا کوي؟
: ملائیکې ځواب ورکړ
الله ج همدا شیبه په لیوالتیا د خپل خلقت چې نوم یې مور ده
ژاړي. یعني چې مور ژاړي الله تعالی هم ژاړي
هیڅوک او هیڅ شي نسو کولای له مور سره پرتله کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه

نودرنو لوستونکو

که یو ځوک وغواړی چی پرمختګ وکړی ! نودی دخپل مور اوپلار سره مینه اومحبت کوی . دمور اوپلار په دوعا انسان ترجنت پوری رسیږی . کوم وخت چی دویو چاځخه مور اوپلار خوشحاله وی نو الله(ج) هم ډیرځنی حوشحاله اوراضی وی

دمور ازاری به کله هم هوسا نه سی
دمور اوپلار دازار عذابونه په دنیا کی
سړی ته رسیږی
اخرت خولا پرمخ پاته دی
نو هیله لرم چی ازاریی نه کړی
اوپه خپل ژوند کی یی راضی اوخوشحاله
کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

ځکه جنت دمور اوپلار تر قدمونو لاندی دی
ددوی شتون غنیمت وګڼی او
دعاوی ورڅخه وغواړی
چی دجهنم له اور څخه خلاصون ومومی
ځکه دمور قهر عارضی
وی
مګر محبت یی دایمی وی

## ادبی ټوټه

ستا پاکو پښو لاندی جنت دی

موری
په موړ لازم ستا اطاعت دی موری
د رب په وړاندی ستا دعا مورجانی
بلکل قابیل د قبولیت دی موری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

چې ستا حقوق رب په قران کې ویلی
لوړ دی ترچا منزلت دی موری
چې د رته وګورم نو زړه می خوښ شی
درته مې زړه کی محبت دی موری
راته دی تیری ډیری شپی کړی ویښی
ډیر زیات په موږ دی شفقت دی موری
په ورین تندی چې مور ته څوک وګوری
حدیث شریف د پاک حضرت دی موری
د هغه اجر یوی عمری غوندی دی
ولا رښتیا او حقیقت دی موری

چې نورانی مخ ته دی ګورمه زه
پکی څه بل شانی لذت دی موری
اوس یی قیصی نه معلومیږی موری
اسلام درکړی لوی عزت دی موری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمري د زړګی سریی موری
تا سره مې حب هم ستر الفت دی موری

## مور یعنی څه؟

مور خو مور وی
مور هغه هستی ده، چې الله تعالی یې انسان ته په ژوند
. کې یو ځل ورکوی
لکه یو بیت دی
قدر یې ډیر پکار دی د خپل زړګی په مینه)
هر چا ته خدای ورکوی یوه یوه مورکۍ
مور د انسان د هیلو او امیدونو باغچه ده
مور د دنیا د ښایستونو او رنګونو نوم دی
یوه څرګنده مور د انسان د خوښۍ او خوشحالۍ
نمونه ده
مور د هغه کتاب نوم دی، چې په لوستلو سره یې د
انسان تلوسه لا پسې زیاتیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

بې له موره دا دنیا بې خونده او نیمګړې وې
د تربیت لومړنې مکتب او مدرسه د مور غیږه ده
د مور یاد د هیرولو نه دی، حالانکه که پیری پیړۍ
ژوند تیر شي
لکه چې یو دوه بیتونه دی

**ما کړله هیره یادیدله مور مې**
**زما له ذهنه نه وتله مور مې**
**ما کړې نعرې چې نوریې نه یادوم**
**په خپله فکر ته راتلله مور مې**

ګرانو دوستانو هیله مند یم چې د
خپلو والدینوسره د زړه له کومې مینه اومحبت وکړی

**دنبی ص مینه دمورسره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسول الله ص د خپلې مور په قبر

ژړا : پر انسان باندي د الله رحم او احسان ده، الله جل جلاله وايي وأنه هو أضحک وأبکی (النجم 43)، يعني او هغه ذات دی چې خندول او ژړول کوي، په ژړا سره د درد مند او غمجن انسان زړه سپکيږي او دارنګه په ژړا سره له دردمنو او کړېدلو سره خواخوږي غمرازي کولی شو، که مور په لاس کې څه ونه لرو او ونشو کولی د کوم غمجن او دردمن انسان مرسته وکړو، د اوښکو زيرمې خو لرو د ناچاري او بيوسي په حالت کې د داسي خلکو په حال ژړلای شو او له هغو سره سلګۍ شريکولی شو ، دارازډير ځله يوه شي ته د شوق له پاره هم ژړا انسان ته سکون او ارام ورکوي او د الله له ويرې هم ژړا له مور سره مرسته کولی شي، او د الله له ويرې تويدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښکې د اخرت په ورځ خورا ارزښتنا کې
ملغلرې ګرځي. رسول الله صلي الله عليه وسلم په
خپل ژوند کې له دې انساني حالت سره ډير ځله
مخامخ شوی دی او په مختلفو حالاتو کې يې
ژړلي دی
. دلته هغه پرتې ګټې او فايدې را څيړو
رسول الله صلي الله عليه وسلم د خپلي مور قبر ته
ولاړ او دهغي د قبر خواته يې وژړل ، له ده سره
چې کوم ملګريي وو هغه هم وژړل او ويې ويل :
ما له خپل څښتن نه اجازه وغوښتله چې زه مې
مورته د مغفرت دعا وکړم اجازه يې رانکړه او بيا
مې له خدايه څخه اجازه وغوښتله چې د خپلي
مور د قبر زيارت وکړم نو اجازه يې راکړه . نو
تاسو هم د قبرونو زيارت کوئ ، ځکه په دې سره
انسان ته مرګ وريادېږي . عن أبي هريرة –رضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عنه– قال: زار النبي –صلى الله عليه وسلم– قبر أمه فبكى وأبكى من حوله، فقال: (استأذنت ربي في أن أستغفر لها فلم يؤذن لي، واستأذنته في أن أزور قبرها فأذن لي، فزوروا القبور فإنها تذكر الموت). (رواه مسلم )

په حديث کې دي خبرې ته اشاره ده چې دمور مينه دانسان په فطرت کې اغږل شوې وې که څه هم درسول الله صلي الله عليه وسلم مور د ده په ماشومتوب کې وفات شوې وه او ده يې دومره خواږه نه وو ليدلي خو بيا هم له مور سره اړيکه تر نورو ټولو انساني اړيکو پياوړې او پخه ده ، او د مورد قبر خواته درسول الله صلي الله عليه وسلم ژړا علماو داسې توجيه کړې ده چې په هغې باندې د جهنم له ويرې نه يې پرې ژړلي دي

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حديث نه دا خبره هم معلوموملی شو چې که د يوچا نږدي خپلوان مشرکان وي نوپه ژوند کې له هغو سره ناسته ولاړه او پوښتنه يې کولی شي او که مړه وي هم زيارت يې کولی شي او په ځانګړي توګه که ديوچا مور اوپلار مشرکان هم وي په دنيا کې به ښه چلند ورسره کوي ځکه قرانکريم وايي : وصاحبهما في الدنيا معروفا يعني په دنيا کې د دوی دواړو ښه ملګرتيا وکړه .

له حديث نه دا هم معلوموملی شو چې قبرونوته تګ رخصت او مستحب ده ځکه په دي کار سره انسان ته مرګ او اخرت وريادېږي اوبل دا چې زيارتونوته تګ بايد يوائې دمرګ يادوني په موخه وي او د همدي موخي له پاره روادی ځکه په حديث کې تصريح شوې ده : فانها تذکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



الموت ، او دنورو تولو موخو له پآره زیارت ته تګ جواز نلري په تیره بیا نن سبا چې خلک په دي لړ کې څومره شرکي عملونه او له ناروا موخو سره زیارتونو ته ځي د دغه باید زیات مخالفت وکړل شي او خلک باید زیارتونو ته د تګ په موخه وپوهول شي

## ادبی ټوټه

لوړ مقام لوړ دی عزت دی خوړی موری،
ستا تر پښنو لاندی جنت دی خوږی موری،

ستا رضا کښی چی رب خپله رضا ایښی،
دی کښی هم د خدای حکمت دی خوږی موری،

رب رحیم نه درته سل کاله ژوند غوارم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دعا ده چې سر نن زما او چت دی خوږې مورې،

تا تګلاره د ژوندون ده را ښودلې،
ستا کلام زیب او زینت دی خوږې مورې،

خوږې مورې، خوږې مورې بیله تا نه،
د عابد ژوند په زحمت دی خوږې مورې،

## دموږپه هکله څوزرینی ګړنې

هغه څه چې تر لحده درسره پخیر ملګر تیا کوی
دمور دعا او شرین یادونه دی.
دتمام بشر په ژبه له روانو الفاظو
څخه غوره لفظ دمور دی.
تر ټولو نمونو ښایسته ښکلې
او په زړه پورې نوم دمور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

دکوم سړی په ژبه چې دمور نوم راځی
له خوښیو یی زړه تالونه وهی .
مورهغه هستی ده چې ځان کبابه وی
مګراولاد ته له سختیو نجات ورکوی.

دمور نوم په انسانی تعمیر کی دامید او محبت
خښته دی.
داسمان ښخه لاندی دځمکی په سر بهترینه تحفه
مورده.

## دیوه زنداني د زندان خاطره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

د چهار شنبې په ورځ مې مور او ورېوکې ورور ملاقات ته راغلې وو لومړې ځل وه چې د مور جانې سره مې په ولچک او زولنوکې کې مخامخ شوم

مور او ورور مې ډېر راته وژړل خو ما به بار بار تسلې ورکوله او ویل به مې مور جانې ته مه ژاړه زه او مید لرم چې ژر به خلاص شم

خو د هغې دومره بې اختیاره ژړه وه چې ما نشوه برداشت کولی

پای کې مې په درد ورته وویل

مور جانې که ته ژاړې زه ځم

مور مې قراره شوه خو سترګو یې ډېرې خبرې راته کولې د پام غلطولو لپاره مې پوښتنه وکړه چې هغه بابا جان ولې نه راغې او کشر ورور مې ولې نشته د رسره؟

مور مې ځواب راکړو ویل ورور دې په سبقانو اخته وه پلار به دې بیا راشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مينه

د رخصتيدو په وخت کې مې وړو کې ورور راته وويل لالا کورته کله راځې؟

زما سترګې له اوښکو ډکې شوې ورته مې وويل وروره زه دلته ستاسو دپاره پيسې ګټم بيا درځم

ورور راته وويل هغه بل ورور به مې هم راته ويل زه ستا دپاره اختر ته کالي راوړم خو هغه د اختر نه مخکې شهيد شو او د کلي په هديره کی مو ښخ کړ او کالي يې رانه وړل

په دې وخت کې مې له خولې چغې ووتلې او مور ته مې وويل د بابا جان به مې څه حال وي، ورور مې وويل بابا جان مو هم ها بله ورځ مړشو او ښخ مو کړ؟

مور مې په کرار او ژړه غوني غږ راته وويل اوس دې ما او دا . وړوکې ورو يوازې ګوزاره کوو

زړه مې غوښتل چې ډيرې خبرې ورسره وکړم خو د دې خبرې سره د ملاقات وخت پوره شو او زه موظف کس ترلاس ونيولم او د مور او وړوکې ورور څخه يې جلا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمورد مینې ادبي کربنې

یه‌زما پاکی فرښتی موری
یه‌صبر ناکی پښتنی موری

ستا تکلیفونه‌شوګیری موری
ځارستا د لوړی حوصلی موری

ستا دعاګانی پلوشی موری
کړی رڼاګانی راخوری موری

یه‌د سپرلی د باد وږمی موری
یه‌د رباب خوږی نغمی موری

زما دردونو له‌دمی موری
زری زری رچی رچی موری

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ لګوی زما پیسی موری
ګنډی شلیدلی لوپټې موری

د انتظار د شعر معنی موری
درته لوګےشه زمانی موری

## مورڅوک ده

هغه کسان چی دمور دهستی شکرکوونکی دی
بیخی نن وخت کی کم دی مورهغه نعمت دی چی
داولاد هردرد هرغم فه ځان تیرولو ته لبیک وایي
مورهغه نعمت دی چی دجدایي غم یي دځمکی
اسمانونوترمنځ
دموجوده مساحت فه اندازه دی دردونکی غم لری
مورهغه څوک ده چی ستاخوشحالی دخپل خفګان په بدل کی
تاته زیاته وی
مورهغه لویه هستی ده چی یوه مسکایي دبچی هرڅومره لوی
غم فه خوښی بدلوی مورهغه نعمت دی چی خادم
اوشاکراولادبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

ده مورده دوعاپه برکت جنت ته ځی مورهغه نعمت دی چی الله
ج
خپل دمهرباني یادونه تل دموردمهرباني دیادونی سره کړی
ده
مورهغه نعمت دی چی بیلاخیره جنت يي ترپښو لاندی دی
یاالله ج دمورده هره حقه موږ خلاص کړی یاالله ج دموردزړګی
هغه رحم چی داولادپه غیاب کی يي داپه خفل زړګی کم خفګان
تیروی یاالله ج موږيي حق نشواداکولی خوته هغه
دمورخفګان چی په موږ داخومره زوریږی موږ دهغه په سزامه
محکومه وه ځکه موږعاجزه یودمورحق نشواداکولی
االله ج دي زمااوستاسو مورګانوته په جنت الفردوس کی اعلی
مقام ور نصیب
کړی
یاالله ج زمااوستاسو مورګانوباندی دباران په شان رحمتونه
نازل کړی چی هرچیرته وی
امین یارب العالمین

## ګرانی موری

ستا د لاسه په مونګ باندی راحت دے ګرانی موری
ستا د پښو لاندی هم جنت دے ګرانی موری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

کور ته راشم چی ته نه یی ډیر خفه شم
دسرسورےدی پهٔ موږ باندی رحمت دےګرانی موری

مور چی د چا نوی نو بے شوکه پهٔ دنیا وی
هر انسان ته د مورجانی حاجت دے ګرانی موری

چی بچو سرهٔ یی دعا وی نو مزی پهٔ دی دنیا کړی
بےدعا چی یی بچی وی پهٔ زحمت وی ګرانی موری

ستا خیال ساتلو ماته دا حوصله راکړه
زما ژوندون ټول سلامت دے ګرانی موری

ستا پرورش داسی پرورش دے اے مورجانی
نعمت هره لحزه پهٔ صداقت دے ګرانی موری
موری
موری
موری
قربان دی سم ګرانی موری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قيصه

نن مي ډير سخت زړه درد وکړئ
آن دا چې پر ځان مي دا نسان شک پیدا سو
پوهیږي چې ولې؟
مور مې ویلي ول چې څنګه به له خپله زویه غوښتنه
وکړم او که چیرې غوښتنه مي رد سي
بل چا راته وویل چې مور دي دیو کار اجازه غواړي
د ماخستن لمونځ مي کوی
په سترګو کې مي اوښکې وچې سوي زبان ګویيي مي
وتړل سول چې رنګ به مي څنګه سوی يي
تر لږ فکر ورسته مي جواب نه کړی ور
د لمانځه نیت مي تړی په فکر کې سوم چې خدای پاک
څومره مهربانه دی چې خپل حضور ته مي په لمانځه
بولي
او مور څومره حوصيله لري
چې د قدم له خاورې غوښتنه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

له ځانه وشرمیدم ځان مي دومره بي کسه او ضعیف
احساس کړی چې تر ځان مي بتر او برباد انسان ونه
لیدی
له سخت درد وروسته مي په زړه کې
خپل خالق تعالی ته وویل
افسوس افسوس صد افسوس دي زما پر انسانیت او
مسلماني وي
چي څنګه زما مور جاني ته دغه فکر پیدا سوی دی
او زه خبر هم نه یم چي زما تر حال او مال ستره هیله
زما په اړه داسې فکر لري
دخپل سپي ښځه د یو ډیر کوچني کار داجازي غوښتنه
او اندیښنه ورته پیدا کیږي
که اولاد صالح دپوره ایمان خاوند وي
والدینو ته به یې هیڅکله هم دغه سوال او فکر پیدا نه
سي چي له خپلو اولادونو څخه دیو کار اجازه وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

زمور د فامیل دوستان ټول خبر دي چي زما او د مور
ترمنځ خو پریږده د خانمي تر منځ لا په شل کاله دي ته
ورته فکر نه دی پیدا سوی
که بد سوی نه وای مور جاني ته به مي دغه سوال پیدا
سوی نه وای
ځکه مي ستاسو سره دغه راز شریک کړئ
چي دخپلي مور دزړه ا هما احساس کړی دی عرش یي
لړزولی دی
مور او پلار مو ډاډمن کړی چي پر تاسو پوره باوري
ووسي چي تاسو دخپل اولاد سر هم نه ځني ګرځوی

## سوال وکړل سو چي مور څه شئ ده؟

•

. الله جل جلاله اویا ځله له مور څخه زیات مهربان دئ

•

سمندر وایي: مور هغه هستي ده چي د اولاد په
. سلګونو زره رازونه په سینه کي پټ ساتي

•

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

وریځو وویل: مور هغه هینداره ده چې هر رنګ پکښې
له ورایه ښکاري.

•

غرونو وویل: د مور د رناوئ زما له څوکو څخه هم
ډېرلوړدئ.

•

باران وویل: مور یوه داسې هستي ده چې تل یې د
میني وړانګي پر اولاد خپرې وي.

•

زمانې وویل: د مور مینه زما له ځغستا څخه هم تیزه
ده.

•

شاعر وایي: مور یوه داسې هستي ده چې د
اورېدو نکي سینې ته کښته کیږي.

•

لیکوال وایي: مور هغه هستي ده چې د ستاینې لپاره
یې په نړۍ کي الفاظ نه موندل کیږي.

•

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

دعا وايي: مور هغه شخصيت دئ چي د اولاد د
خوښی لپاره هر وخت ماغواړي.

•

جنت وايي: مور هغه هستي ده چي زه يې هم تر قدمونو
لاندي يم.

•

لمر وايي: مور يوه داسي هستي ده چي له هرډول
گرمی او يخنی څخه اولاد ساتي.

•

ځمکه وايي: زما قيمت خو به څوک پوره کړي خو د
مور قيمت هيڅوک نه سي پوره کولای.

•

هوا وايي: په ماکي نرمي او تازگي د مور څرگندونه
ده.

•

رڼا وايي: مور د رڼا او ښودني څلی دئ.
زه وايم: ما ته د مور او ګل ترمنځ تو پير نه ترستر گو
کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادبي ټوټه

کور دې راله شاړ کړو په ژړا دې کړمه موری
لاړې رانه مورې بې دعا دې کړمه موری

ستا د ځار قربان غږ به نور نه اورم لکه؟
زړه مې چوي یتیم شو مه تنها دې کړمه موری

بې لتا خو کور راته زندان بنکاري ما موري
سر دې په سودا سر په صحرا دې کړمه موری

ای زما قبلې زما دنیا زما هر څه
ټوله نړی شته خو بې دنیا دې کړمه موری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه مور په ځنګله کې

يو ځوان هلک چې هره ورځ به يې په کور کې د ميرمن
او مور ترمنځ جنجال و، غوښتل يې چې د مور څخه
ځان خلاص کړي، فيصله يې وکړه چې مور بايد په
ځنګل کې خوشې کړي، يوه ورځ يې مور په شاه کړه او
د يوه لوی ځنګل په لور روان شو او يو هسک غره ته
پورته سو چې خپله بوډۍ مور هلته پريږدي، تر څو
بيرته راکښته نه شي، کله چې د ځنګل په منځ کې د
دنګو او لوړو بوټو او ونو لاندې تيرېده نو مور به يې
پورته د ونو څانګې ماتولې او په ځمکه به يې
غورځولې

هلک خپله مور په غره کې پريښوده او يو ائې رارروان
شو، مګر لار ډېره هيبت ناکه وه، هلک فکر وکړ لکه
چې لار مې غلطه کړه، هسې نه په بل لوري لاړ شم او
حيوانات مې وخوري، په همدې سوچونو کې و، چې
مورکۍ يې پرې اواز وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی جانه! لار درنه غلطه نه شي ما به په لاره کې د ونو
او بوټو څانګې په دې خاطر راماتولې او په لاره مې
غورځولې چې، تا ته په بیرته تلو کې مشکل نه وي او
لار درنه غلطه نشي او س په همدې نښو نښانو ژر ژر
ولاړ شه چې خدای مکړه کوم ځناور درته نقصان ونه
رسوي په خیر لاړ شې زویه
په دې وخت کې د اوښکو ډنډونو د هلک په سترګو
کې سیلابونه جوړ کړل، زیات پښیمانه شو مور ته
راغی غاړه یې ترې واخیسته لاسونه یې ښکل کړل او
بیرته یې کور ته بوتله
تر ټولو عجیبه خو دا ده چې زوی یې د مرګ سوچونه
کوي او مور یې د سلامتۍ فکر

!

# ددې کیسې مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

هره مور جانه د مینه ناک زړه څښتنه ده هر
وخت يې قدر او عزت کوئ ځکه چې دغه
ستر نعمت په عمر کې انسان ته يو ځل
ورکول کيږي.

مورهغه لوی نعمت دی چې يو ځلی لاړه شی نو بيا يی
راتګ نشته مخکلی له دی چي پس له مرګه يی آرمان
وکړی نو هڅه وکړه په ژوند کي يی خوشحاله کړی

مور

مور د دنيا ستره هستي
په نړۍ کې ترټولو زوريدلی مور هغه
د افغان مور ده متاسفانه يو خو چې څرنګه په
کار ده مونږ هغسې د مور حق نه دی ادا کړی
او له بلې خوا زمونږ مورګانې روزانه غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

# لمانځي زوريږي کړيږي او درديږی دنړۍ دنورو مورګانو په شان خوشالي زمونږ دمورګانو په نصيب نه ده کاش مونږ هم خپلې مورګانې له دی ورو سته خوشاله وګورو

الله پاک دی مو په وطن کی سوله راولی

مورهغه هستی ده چی لمن کښی يی اغزی واچول شی ګلونه ترجوړيږی

# ادبی ټوټه

موری ستا ښکلاه او ستا رڼا غواړم
زه ترابده ترقيامته ستا بقاء غواړم
ستا يوه مسکاه راته بقاء غواړی
دژوند يوه لحظه دی راته اعطاء غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

هاشمي دی تل دعآ غواړی
ستا دجنت راته بقاء غواړم
موری لاس پورته کړه دعرش ولورته
ستا په دعاء کی دارنا غواړم

دنیا څه ده خو بس خوشی تش میدان دی
یوه مور ده چی هم ژوند دی هم جهان دی
چی ناڅاپه راپیادشی ګرانی موری زړه وړوکی شی
ماشوم شی په ژړاشی

بی اختیاره داللهٔ ج نه داسوال وکړم
زما عمر اوخوښی دی ټوله ستاشی

پ‌خپله ژاړم هیڅ پروا می نشته
ماته په ژوند دمور خنداپکار ده

په کور کی نه وی زه له کوره درته ګورته رالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

موری راپاڅه یو څه اوښکی می ډالی راوړی
دخپل پړونی په ځانګو کی می لړ و ځنګاوه
یو ځل می بیا پخپله ژبه الله هو کړی موری

## عجیبه قیصه

یوه زاړه ښځه به هر وخت له سهاره تر ماښامه دخپل
زاړه کور د دروازې مخې ته ناسته وه
یو وخت ورته یو ځوک چې هره ورځ به په همدې لاره
تیرېده متوجې شو، نو له ورځو څخه یوه ورځ وه، چې
. په همدې لاره تیرېدی
بیا یې په زړې ښځې سترګې ولګیدې، چې وچې
شونډې، چاودلې پښې او زاړې جامې په تن د خپل
زوړ کور مخې ته ناسته وه خو دا ځل ترې همداسې تیر
نه شو خواته ورغی او د سلام وروسته یې ورته
وویلمورې څنګه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړې ښځې لاس د سترګو د پاسه ونيو په ځير ځير يې
وکتل او ويې ويل ښه يمه ځويه
لاروي وويل : مورې داسې معلومېږي لکه چې نور
څوک نلرې؟
ښځې وويل :ولې نه شکر دی شپږ زامن مې دي،
. خدای ج دې يې راته ژوندي لري
لاروي وويل: مورې ستاسې له کوره داسې معلومېږي
چې د زامنو کاروبار دې خرابه دی څه کار مزدوري لکه
چې نشته
ښځی وويل: نه ځويه شکر دی په ټولو زامنو مې
سبقونه ويلي، يو انجينر دی يو ډاکټر دی او نور هم
. لوی لوی کارونه کوي
ټولو بچو ته مې ودونه وکړل، دا دوه مياشتې کيږي
چې پلار يې وفات شو الله دې يې وبخښي
ډېرې سختې يې زما بچو سره تيرې کړې
لاروي وويل: نو زامن دې کوم دي مورې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي وويل: زامنو ته مې الله ج ډېر مال او دولت ورکړی، هر يو ته مې چې واده کولو بس الله به ورته بل ځای کې ښه کور او د ژوند سهولت ورکولو، ټول زامن مې هلته يو دوه کلي وړاندې اوسيږي

لاروي وويل: نو موريې ته دلته څه کوې؟

ښځي وويل: په دې لاره مې هر سهار زامن تيرېږي، صرف د هغو ليدو لپاره کښنم، خو اوس مې سترګې ضعيفه شوې او په موټر کې ناست زامن سم نشم ليدلی

## مورجانه

مور هغه هستی ده چی لمن کښنی يی اغزی . واچول شی ګلونه ترجوړيږی

مورپه کورکی هغه تله ده چی ټول اولادونه ورته يو شان وزن لری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

مورپه نړی کی هغه موجوددی چی زړګی پری
راټولیږی

موردنیاملایکه ده.مورجانی ستادنوم تردغه
دریوټکو جارشم،(م)می مینه
(و)وجودمی(ر)می روح

له اسمان څخه لاندی دځمکی پر سربهترینه تحفه مور
ده

دکوم انسان په خوله چی دمورنوم راځی زړه یی
دخوشحالی څخه ټوپونه وهي

## ادبي ټوټه

جوړپه دې دنیاجنت دی،دمورغیږه

دخدای رحم وشفقت دی،دمورغیږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه

دنیا واړه دمورغیږه کې، پرته ده

ګهواره دبشریت ده، دمورغیږه

انسانیت دمورله غیږې، شروع کیږي

سرچینه دبشریت ده، دمور غیږه

محبت دمورپه غیږه کې، زده کیږي
مدرسه دمحبت ده، دمور غیږه

دمور مینه کې ریااوتذویرنشته
سرترپایه صداقت دی، دمورغیږه

دمورغیږه درازونو، ګنجینه ده
خزانه دلوړحکمت ده، دمورغیږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مينه

دمورغيږه کې نفرت او کرکه نشته

ډکه واړه دالفت ده،دمورغيږه

په للولوکې راز دنصيحت شته

ښه اغاز دنصيحت ده،دمورغيږه

دژوندکړه وړه ،ټول همدلته شروع کيږي

ښه ټاکونکې دقسمت ده،دمورغيږه

دشاهانوپه دربارکې،موندل نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمور مینه

کوم دربار چې دعزت دی،دمور غیږه

په دنیاکې نعمتونه دخدای ،ډیري

خو ترټولو خوږ نعمت دی،دمور غیږه

په دنیاکې ئې مثال اوساری نشته

دومره ډکه دلذت ده، دمور غیږه
دمورغیږه ټوله مینه ،مینه مینه

ټوله مینه ،ټول رغبت ده،دمور غیږه

زه قیام ئې دستایلونه ،عاجزیم

دومره لوړ نوم دصفت ده،دمورغیږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمورسره دزوی دوکه

ډيرپخوا ليری صحرايي سيمه کی کوچيان اوسيدل
ترڅنګ يی دبدرالدين په نامه ګاونډی هم وو چی دده
مورد (هيری)په ناروغی اخته وه او دی غوښتل چی
زوی يی تل ورځ ترڅنګ وی زوی به يی دی خبری
زيات زوراوه او ويل يی چی دخلګو له نظره به کوچنی
يم کله چی د کډی کولو وخت رانږدی سو نو بدرالدين
ميرمنی ته وويل چی مورمی له ځان سره نه بيايو او
همدلته يی پريږدو يو څه خواړه ورسره کيږده
چی يايی ليوان وخوری ياخپله مړه شی.چی دغم نه يی
خلاص شو دي ورته ويل بنه دی کډی يی وتړلی او
ميرمنی يی دخوړو ترڅنګ دخوابنی سره خپل يو کلن
زوی هم پريښود چی همدايوزوی يی درلود اوپلار
دزوی سره زياته مينه لرل.دوی کډه بارکړه او يو څه مزل
وروسته دغرمی ډوډی لپاره دمه سول چی تول په
خوراک اخته وه بدرالدين ميرمنی ته وويل چی زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

می راکړه چې یو ساعت لوبی ورسره وکړو میرمنی
ورته وویل چې هغه می ستا دمور سره پرېښود ده ددی
په اورېدو زیات خپه او په غوسه سو او چغی یی کړی
چې دادی څه وکړه میرمنی وویل چې ځکه می
پرېښودی چې سبا به مور هم همداسی یو ازی پرېږدی
دا خبره په ده باندی دمردک په څیر ولګیده او په تلوار
په اس سپور او دموراوزوی خواته ور روان سو ځکه
هلته داسی وه چې څوک به بار سول لیوان به یی کورو
ته ورتلل چې که به څه پاته وه خوړل به یی نو دی چې
ورسید ګوری چې
موریی شاو خوا ګوری

زوی یی مور په شاه تړلی
وه وربا ندی لیوان شاوخوا راتاویږی اودا یی په کاڼو
ولی چې ځانونه وساتی بدرالدین لیوان وشړل سترګی
یی داوبنکو ډکی سوی او دوی یی راوستل ددی نه
وروسته چې کله به کډه کیدل مور به یی په اوبن سپره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او دی به د شاه په اس ورپسی وو او د سترګو لاندی
. به يی د مورجانی ساتنه کول

# زړينی ګربنی

خوږه کليمه د مور ويل دی
او په وجود کي يي ترټولو ښکلي او زړه راښکونکي غږ
(اي موري) د
مور کليمه هغه کوچني لغت دي چي له هيلي،عشق
اولورييني ډک دي مور په بشري زړه کي
. ترټولو خوږ او خوندلرونکي غږ دي
موردلورييني، ازمښت، زړه سوي اوزده کړي سرچينه
ده مورد سپيڅلي ښنتن هغه لورينه ده چي د خپل
اولاد د روزني اوپالني لپاره هري سرښندني ته
چمتوده، مور هغه غيږده چي د اولاد د ارام ځاي دي
خودا غيږنه يوا ځي په ماشومتوب کي نه بلکي په
هروخت کي د خپل اولاد لپاره ارام وربښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو_ کله چي يوا ئيتوب احساس کوي، بلکه کله چي ځوک ستا خبره نه مني کله چي د چالخوا ستا مينه رد شي کله چي دژوند څخه کرکه کوي.يو ځل سترګي پټي کړي سوچ وکړی چي چيرته به ارام بيامومي او ځوک ستا خبره درک کولاي شي خوته به بيا مومي هغه بل ځوک نه ستا مورده، هغه چي تاته دا احساس درکوي چي ته ترټولو غښتلي يي او تاته دا ډاډ درکوي چي ته ريښتيني يي

## ادبي ټوټه

ای محترمی قدردانی موری
زما خوږی او مهربانی موری

مور جانی ستا له محبت نه قربان
ستا حوصلی او صداقت نه قربان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

ای د هر چا نه په ما ګرانی موری
ای محترمی قدردانـی مـوری

مور جانی ستا دی لوړ همت ته سلام
ستا شفقت او مرحمت ته سلام

زمونږ لپاره سرګردانی موری
ای محترمی قدردانی موری
موری تحفه د پاک الله یی موږ ته
بهتر نعمت په دی دنیا یی مونږ ته

په تا نازیږو ډیر بی شانی موری
ای محترمی قدردانی موری

زه افغان به دی عزت کومه
درسره مینـه محبت کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په غم سترې ستوماني موری
ای محترمی قدرداني موری
زما خوږی او مهرباني موری

## قيصه

دمور مينه

پرون شپه مې خوب ليده چې مړ شوی يم
لومړۍ ورځ يوه پربښته راغله او راته وې ويل

څه غواړې ؟

! ورتهومې ويل : اوبه

وې ويل : لاړ شه هغې غونډۍ ته وخيژه او اوبه وڅښه، کله چې هلته لاړم په يوې سترې چينې مې سترګې ولګيدې، له هغې چينې څخه مې په مړه خيټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه وڅکلې . درېيمه ورځ ييا هغه پرښته راغله او وې
ويل : نن څه غواړې ؟

! ييا مې وويل : اوبه

هغې وويل : لاړشه هغې غونډۍ ته وخېژه او اوبه
وڅيښه، کله چې لاړم، ګورم چې چينه ډېره کوچنۍ
شوې ده، په مره خيټه مې ترې اوبه وڅښلې

اوومه ورځ ييا نومورې پرښته راغله او وې ويل : څه
غواړې ؟

ييا مې وويل : اوبه

هغې ييا وويل : لاړشه هغې غونډۍ ته وخېژه او اوبه
وڅيښه، له يادې چينې څخه مې اوبه وڅښلې

څلوېښتمه ورځ ييا هغه پرښته راغله او وې ويل : نن
څه غواړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې وویل: اوبه

هغې یو ځل بیا خپله تیره خبره تکرار کړه او وې ویل، چې هغې غونډۍ ته وخیژه او له هغې چینې څخه اوبه وڅښه

کله چې هغه ځای ته ورسیدم ګورم، چې د اوبو څاڅکي ډېر کم شوي دي، بیرته را وګرځیدم او له هغې څخه مې وپوښتل

دا ولې؟

هغې په ځواب کې وویل: لومړی ورځ ټولو دوستانو، د کورنۍ غړو، قوم، مورا او خپل خپلوانو دې ستا له پاره اوښکې تویې کړې، دریمه ورځ یوازې ملګرو او مور دې ستا له پاره اوښکې تویې کړې، اوومه ورځ هم یوازې ملګرو او مور دې ستا له پاره اوښکې تویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، مګر ځلو ښتمه ورځ یوازې او یوازې مور دې وه چې ستا له پاره یې اوښکې تویولې، دا ځاځکې ستا د مور اوښکې دي، چې د تل له پاره تویيږي

کله چې را ویښ شوم، نو د خپلې مور لاسونه اا و پښې مې ښکل کړل، پوه شوم چې د مور مینه تل پاتې ده

## مور د ژوند ملګره ده

مور د ژوند د سترې غره یوازینی هغه چینه ده چې

داولاد تنده، سکون، ارامي او مینه پکې بهیږي

مور د اخلاص هغه نمونه ده چې د خپل بدن له غوښو

پیی(شیدې) درکوي

مور د اعظمت و بلندی هغه مثال دی چې جنت یې له

پښو لاندې دی

مور خدای نده خو چې ودې نه بخښي خدای د نه بخښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادبی ټوټه

داقیامت خو دې خدای نه راولي موري
چې ته مړه يې او زه نه یم مســـــافريم

دمورپه اوښکو مې لمده وه ځکه نه تیریده
زما تر اوسه نه هیریګی هغه وچه ډوډی

ده جنت سره سایه لرم په کور کی
هم کعبه هم مدینه لرم په کور کی

غریب نه یم زه باد شاه د زمانی یم
بی مـــثاله خزانه لرم په کور کی

یو دیدار به یی په درست جهان ورنه کړم
زه خو داسی خزانه لرم په کور کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قیصه

لس کلن یتیم د خپلې مور سر ته ناست و، لاسونه یې د مور له غاړې تاو کړي وو او له ژړا سره یې سلګۍ هم وهلې. مور یې خپل لاس په ډېر زحمت را پورته کړ او د خپل زوی په سر یې کېښود. کوښښ یې وکړ چې زوی سینې ته ورنیږدې کړي، خو په لاس کې یې دومره توان نه و په ډېر ټیټ اواز یې په ډېر زحمت وویل: مه ژاړه زویه زه ښه کیږم.یتیم خپلې سترګې د مور په سترګو کې ښخې کړې مورې پلار که مې وای نو اوس به یې تا ته دوا راوړې وای ته نن ښه شه زه بازار ته ځم چې نن مزدوري وکړم ماښام دوا درته راوړم.سلګیو یې خبرې پرې کړې مورې زه مې بوټان هم بازار کې خرڅوم چې ډیره دوا درته راوړم، خو ته نن ښه شه.د مور په بدن کې یې لړزه پیدا شوه کوښښ یې وکړ چې زوی سینې ته ورنیږدې کړي، خو توان یې نه و. د مور له سترګو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکې را پرېوتې. زوی یې د لاس په ورغوي د مور
اوښکې پاکې کړې

دمور لاسونه یی په څمکې ولوېده یتیم ونه پوهیدی
چې مور یې ساه ورکړه لا یې هم مور ته خبرې کولې
مورې ته مړه نشې که ته مړه شې نو زه به بیا ډوډی له
کومه کوم مورې که ته مړه شې نو زه به یوازې پاتې
شم، مورې مورې...لړشیبه وروسته وپوهیدی چې
مور یې دده خبرې نه اورې، له خولې یې سوې کړیکه
ووته او د مور په سینه ورپرېوت
زرینی کربنی دمور لپاره
تاسی فکر وکړی چی یوه مور په خپلو اولادونو څومره
مهربانه ده تاسی هم ددی خبری شاهدان یاستی چی یوه
مور د خپلو بچو د روښانه راتلونکی لپاره په پردیو
کورنو کی جامی مینځی او ډوډی پخوي دا هرڅه ددی
لپاره کوی چی دغه نیازبین بچی یی د خپلو همزولو او
سیالانو په کتار کی ودریږی او نه غواړی چی دغه گل

(c) ketabton.com: The Digital Library



گل بچی یی بی تعلیمه لوی شی د دی خبری د ښه
سپیناوی لپاره د پښتو ادب د نا لیکلو ادبیاتو له
خروار لنډیو ځخه یوه لنډی ستاسو مخی ته ږدو

لنډی

بچیه د سکول نه قرار نه شی
زه به پردی جامی ګنډم تا به ساتمه

## قیصه

د مور مینه

یو ه مو ر چی شل کاله د خپل ز و ی په ا نتظا ر کښی
و ه
د سرشمیرنی یو کا رکونکی د سرشمیرنی په خاطر د
یو کو ر د ر و ا ز ه وټکوله
زړی ښځي د ر و ا ز ه خلاصه کړ ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

کارمند پوښتنه یی وکړه ,مور جانی په دی کور
کښی څوکسه یاست
زړی ښځی د کوڅی اخیری برخی ته وکتل او په
ژړند وکی لهجه يې وویل کولی شی سبا راشی
سرشمیرنه وکړی
د سرشمیرنی کارمند وویل,مور جانی څه فرق
کوی نن یا سبا
زړی ښځی وویل,بلی مامور صاحب زوی لرم چی
شل کاله کیږی مسافری ته تللی دی شاید نن یا
سبا به راشی که راشی نور بیا دوه کسه یو
یو دکاندار د کور ترڅیرمه وای چی هر کله چې
د امور له کوره د باندی ځی نور کیلی ماته پریږدی
وای چی شاید زوی به مو راشی زه به نه یم ستړی
به وی د اکیلی ورکړه تر زما راتګ پوری به
دمه وکړی
د مور مینه د اسی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له مور اوپلار سره نیکی کول

له ابو هریره رض څخه روایت دی چی
رسول الله ص و فرمایل «رغم انفه .ثم رغم انفه .ثم رغم انفه .قیل
من یا رسول الله قال من ادرک والدیه عند الکبر
.احدهما او کلیهما .ثم لم یدخل الجنة» رواه مسلم ۲۵۵۱.ژباړه:
دهغه پزه دی په خاورو سی .دهغه پزه دی په خاورو سی .او بیا
دی هم دهغه پزه په خاورو سی .یو چا عرض وکړی ای دالله رسوله
دچا ؟د رسول الله ص
داویناچی وایی او بیا هم جنت ته داخل نسی . په دی معناء ده چی
څوک داموقع تر لاسه کړی او ګټه تری وانخلی نو هغه تاوانی دی
له همدی امله څوک چی دخپل مور او پلار سره دبوډاوالی په
حالت کی نیکی کول غنیمت و نه ګڼی .نو ددی لایق دی چی بدی
یی وویل سی. دابو هریره رض عنه څخه روایت دی چی رسول الله
ص و فرمایل بیشکه چی ځینی وخت په جنت کی دیو چا درجه
پورته کیږی .هغه به پوښتنه وکړی چی دادرجه ماته څنګه راکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه ؟ورته وبه ویل سی چی ستا اولاد ستا لپاره دبخښنی دعا کړی وه «رواه ابن ماجه دحدیث شمیره ۳۶۶۰»
په دی حدیث کی دمور اوپلار رسره دښه سلوک لوی اجر اوهڅونه اوله هغوی سره دبد سلوک عذاب او بیره بیان سوه .ابو درالدرداء رض وایی چی ما درسول الله ص څخه واوریدل چی وی فرمایل: پلار دجنت منځنی دروازه ده. نوکه غواړی ضایع یی کړه اویا یی ساتنه وکړه (رواه ترمذی دحدیث شمیره ۱۹۰۰)
له دی حدیث څخه مطلب دادی چی دپلار حقوق اداکول اطاعت یی کول خبره یی منل او ادب ورسره کول دجنت پر منځنی دروازه دداخیلیدو لوی سبب دی.

همدارنګه دعایشی رض عنها څخه روایت دی جی رسول الله ص وفرمایل زه چی بیده سوم نو ځان می په جنت کی ولیدی . بیا می دیوه لوستونکی اواز واوریدی پوښتنه می وکړه چی داڅوک دی ؟ راته وویل سول جی دا حارثه بن نعمان رض دی . بیا رسول الله ص وفرمایل : هغه ته دامقام اومرتبه دتابعداری په وجه ورکړل سوی دی . حارثه بن نعمان رض دخپلی مور ډیر تابعدار وه (رواه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمور مینه

احمد ۸۹/۲۴) نودرنو مسلمانانو لکه چی په حدیثو کی مو
ولیدل دمور اوپلار ځومره ستر حقوق دی نو مور اوتاسو هم باید
دمور اوپلار احترام او قدر وکړو. اوددوی دویناوو څخه
سرغړونه ونه کړو. برته ددوی دمشوری دکوم کارپیل او ختم ونه
کړو دژوند په ټولو چارو کی ورڅخه مشوره وغواړو

(ومن الله التوفیق)

دیوی دعا په هیله
حاجی محمد ځلاند او ورسره همکار جمیل احمد درویش

ستا له رضـــــا سره دهر بنده تقدیر تړلی
موری له تا سره دوبښو شپو تصویر تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخذ لیکونه

# بیلابیل ویبسایټونه

## فیــــــــجونه

## فیــــــــــسبوک پاڼی

## او کتابونه

همدارنګه دحاجي محمد څلاند او جمیل احمد درویش
مطالعتی معلومات
خوښونه  سردار ولی عابد

فیسبوک پاڼه — حاجي محمد څلاند

ایمیل ادرس — Haji khan 413@ gmail.com

دتلیفون شمیره — 070   555 80 76

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**